# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے

# دانیال او یو ښکلے خوب



Edward Hughes :لیکونکے

Jonathan Hay :خیال
Alastair Paterson

Mary-Anne S. :خوښونکے

Aim4Faith Ministries :ترجمه کونکے

Bible for Children :مددګار
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.

نبوکدنضر بادشاه یو خوب ولیدو، او هغه خوب هغه ډېر زیات پرېشانه کړو. د خدایٔ پاک په قدرت سره، دانیال بادشاه ته د خوب تعبیر وئیلو کښې کامیاب شو.



د ټولو نه اول دانیال له
خوب بلکل صحیح
بیانول وو. اے بادشاه، تا
په خوب کښې د یو لوئې
مجسمې او لوئ تصویر
لیدلے دے. او دهغهٔ
شکل ډېر ښکلے وو!



د هغه مجسمې سر د خالصو سرو زرو وو، دانیال خپلې خبرې جارې وساتلې.



د هغې سینه او لاسونه
د سپینو زرو وو.



او د هغهٔ خیټه د پیټلو نه جوړه وه.



د هغهٔ پښې څهٔ د اوسپنې نه او څهٔ د خاورو نه جوړې وې.



د مجسمې د صورت بیانولو نه پس دانیال بادشاه ته باقی
خوب هم بیان کړلو.



دانیال بادشاه ته ووئیل، تا هغې ته
کتل تر دې چې یو کاڼے بغېر د لاس
وروړلو نه بغېر کټ شولو.



هغه کاڼے د هغه
مجسمې په پښو باندې
راپرېوتو کومې چې د
اوسپنې او د خاورې نه
جوړې وې او هغې يې
ټکړې ټکړې کړې.



بیا یې هغه مجسمه خاورو سره
یو ځای کړله او زرې زرې یې
کړه، بیا دانیال ووئیل چې د هغه
کاڼی نه یو لوئ غر جوړ شو،
او ټوله زمکه یې ونیوله.



بادشاه حېران پاتې شو، ځکه چې څنګه بادشاه خوب لیدلے وو نو دانیال ورته هم هغه شان بیان کړلو. دانیال څنګه پته ولګېده؟ هغهٔ ته په دې وجه پته ولګېده چې خدایٔ پاک هغهٔ ته فرمائیلی وو. او بیا دانیال بادشاه ته د هغهٔ د خوب تعبیر بیانول شروع کړل.



آسمانی خدائ پاک تا له
یوه بادشاهی، طاقت،
جلال، توانائی او
قدرت، شان او شوکت
درکړے دے.

دانیال بادشاه ته
ووئیل چې هغه
د سرو زرو سر
تهٔ یې.



دانیال بادشاه ته ووئیل چې ستا دا بنکلې بادشاهی به ختمه شی. په مجسمه کښې د سپینو زرو د حصې مطلب دا وو، چې یوه کمزورې بادشاهی به د دې ځائ ونیسی. او د پیتلو مطلب بله بادشاهی ده، او د اوسپنې او د خاورې مطلب څلورمه بادشاه ده.



په آخر کښې چې دانیال بادشاه ته کومه خبره وکړه نو
هغه دا وه چې آسمانی خدائ
پاک به یوه بادشاهی قائمه
کړی، چې هغه به کله
هم نۀ تباه کیږی.



بادشاه په دې باندې پوهه شو
چې خدائ پاک صرف دانیال
له په خوبونو او د هغې د
تعبیر بیانولو حکمت ورکړے
دے. نبوکدنضر دانیال له ډېر
دولت ورکړو او هغه یې په
خپله بادشاهۍ کښې یو ډېر
اهم سرے جوړ کړو.





اولنی،
دوېمه او
دریمه بادشاهی
راغلې ده
او هغه تېرې
شوې دی.
د خدائ
پاک بادشاهی
به د څلورمې نه
پس راځی.

مسیح به
په دنیا
باندې
حکومت
کوی او ډېر زر
به داسې وشی.

# دانیال او یو بنکلے خوب

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصۍٔ

شته دے

دانیال ۲

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"
زبور 130:119

ختم شو

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲